مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۰/۲۲

# لویه تلوسه

## دویمه برخه

**په منځني ختیځ کې د اوبو لګښت**

د منځني ختیځ وندې د نړۍ له خوږو اوبو څخه ۱٪ ده چې دغه مقدار د نړۍ د ۵٪ جمعیت ترمنځ ویشل کیږي. لدې امله، اوبه په منځني ختیځ کې یوه مهمه ستراتژیکه سرچینه ده. وړاندوینه شوې ده د عربی هیوادونو د اوبو لګښت به تر ۲۰۲۵ کال پورې د هغو اوبو دوه برابره شي چې طبیعت د دوی په واک کې ورکړې دي. د عربو اتحادیې د ریوټ له مخې د عربي هیوادونو له دریو دوه برخه یې په کال کې د سړي په سر له ۱۰۰۰ مترو مکعبو کمې اوبو په واک کې لري.

د منځنی ختیځ په محدوده کې ټول مهم رودونه د هیوادونو ترمنځ کم له کمه له یوې یا څو پولو تیریږي چې له هغې ډلې دجلې او فرات سیندونه خلیج فارس ته تر رسیدو پورې د منځني ختیځ څلورو هیوادونو یانی ترکیې، سوریې، عراق او ایران له پولو تیریږي. کله چې په پیلیځ (لومړني) هیواد کې اوبو څخه ډېره ګټه اخیستنه د نومړي هیواد د سیاست په عنوان اجرا کیږي ښکتني پراته هیوادونه به د اوبو له کمښت سره مخامخ شي او یا به په پاسنیو هیوادونو کې د اوبو ککړتیا، کوزني هیوادونه د سالمو اوبو له لرلو محروم کړي. اتکل شوی چې د منځني ختیځ هیوادونو د اړتیا وړ ۵۰٪ اوبه له ګاونډیو هیوادونو یا له نورو هیوادونو څخه تامینیږي. په منځني ختیځ کې پر دجلې او فرات سیندونو سربیره د اردن رود هم د اردن هاشمي، فلسطین او اسراییلو تر منځ د اختلافونو سرچینه دی.

**د اوبو ډیپلماسي**

د اوبو ډیپلماسي د نړیوالو اوبو پر سر د برخورد او خشونت یا د تفاهم او مدیریت د بالقوې توان په مانا ده.چې پدې وروستیو کې ډېره زیاته د پاملرنې وړ ګرځېدلې ده. د اوبو ډیپلماسي د ګډو ګټو هیوادونو له څواکمنتیا سره تړاو مومي چې لېوالـه دی د خپلو ګډو اوبو سرچینې هغه شان مدیریت کړي چې سیاسی نظره یو پایداره وضعیت رامنځ ته شي. یاني د اوبو شریکې سرچینې، پرته له هر ډول لانجې اوشخړې، لوریو ترمنځ یا د اوببرخه والو(حقابه ورونکو) لوریو ترمنځ د کاریدو وړ وګرځي. لدې امله « د اوبو په ډیپلماسۍ کې انعطاف» له بدلونونو سره جورجاړي او سمونتیا لپاره د انسانانو او ژوند چاپیرال د پیچلي توان په مانا دی. « د اوبو په ډیپلماسۍ کې اغیزمنېدل » ( زیان ګالل) هیوادونو ترمنځ د اوبو د ګډې ګټې اخیستو په نظامونو کې د سیاسي شخړو د خطر په مانا دي.

> په ورته حال کې د اوبو ډیپلماسي دجغرافیه له نظره کېدای شي د پولیزو ګډو ګټو اوبو له مدیریت کولو څخه پراخ تعریف شي. ځینو هیوادونو خوږو اوبو ته د لاسرسي خپلې موخې د خپلو رودونو او د ګډو ګټو اوبو له محدودي څخه پراخې او لویې ټاکلې دي. د اوبو ډیپلماسی کېدای شي د یوه هیواد ټولې اوبیزې موخې حتی سهیل قطب کنګلونو ته او یا هغو اوبو ته لاسرسي چې شمال قطب ته تویږي، راونغاړي. زمونږ موخه په دې کتاب کې دا دی چې د ایران د اوبو ډیپلماسي باید، د نړۍ په ټولو لویو وچو کې ان په سهیلی قطب کې، د نړۍ خوږو اوبو څخه یوې برخې ته سولمنه لاسرسي راونغاړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولـئ

پدې اساس هغه هیواد ډېر بریالی دی چې نرمښت (انعطاف) د زیان ګالنې ځیناستی کړي .چې لاندې ځانګړنې ولري:

- پدې برخه کې نړیوال قراردادونه او بنسټونه ولري.
- د بین المللي همکاریو او مشارکت په پروژو کې مخینه ولري.
- د همغږه شویو نړیوالو پروژو یو تاریخګوتی ولري.
- په معمولی توګه مثبتې نړیوالی اړیکې ولري.
- له لوړې کچې اقتصادي پراختیا څخه برخمن وي.

**بله خوا هغه شرایط چې زیان او اغېزمنېدو پر لور کړون مومې عبارت دي له:**

- د ژوند چاپېریال اړوندچټک بدلونونه
- د جمعیت چټکه وده او یا ناهمغږه اقتصادي وده .
- یواړخیزې پراختیایي پروژې
- د یوه بنسټیزه شوي جوړښت نشتوالی
- ګاونډیو سره د ناوړه اړیکو درلودل
- اقلیمی طبیعي بدلونونه، د سیلاونو او توفانونو پېښوونکی ورښتونه او د پرله پسې وچکالَیو بیلګې.

**په نړۍ کې د اوبو پر سر اختلافونه**

اوبه یوه حیاتي او بې جوړې سرچینه ده.چې هیڅ ځیناستی ورته نشي اټکل کېدی. د اوبو کمښت، د نوې زرېزې په پیل کې، د انسانانو د مهمې برخې ژوند له ګواښونو سره مخامخ کړَی دَی. او اوبو ته مخ په زیاتیدونکي اړتیا، د لګښت د بیلګو(الګو) بدلون، دطبیعی سرچینو له منځه تلل او د بیابانونو پراخېدا،ککړتیا او د مناسبو بیخ بناو نشتوالی بشر د اوبو د نړیوال کړکیچ پر لور بیایي.

یونسکو د خوړو اوبو د کمېدو د اهمیت په دلیل، د اوبو بیعه څو ده تر نامه لاندې په مقاله کې، زیار ایستلی د اوبو په ودې حال کې کړکیچ ته ځیر او هغه تر پاملرنې لاندې ونیسي. دغه فرهنګی سازمان یوسلو پنځوسو پوهانو ته د دغه کړکیچ د څیړنې لپاره بلنه ورکړه. پدې لیکنه کې د اوبو د بین المللي بازار په شتون او دولتونو ترمنځ د راکړه ورکړې په امکان خبرې شوي دي. او پر دغه ټکي ټینګار شوی چې کمشمېرخلک د خوړو اوبو په لړوالي پوهیږي. خلک نه پوهیږي چې د ځمکې غونډاری(کره زمین) ۵ / ۹۷ سلنه اوبه تروې دي. او یوازی ۵ / ۲سلنه بې خوړې دي چې لدې ۵/ ۲سلنې کابو ۷۰ سلنه یې په قطبونو او کنګلیزو سیمو کې دی.

نومیالي انګریز جغرافیه پوه پیټر هاګت په خپل فرضي موډل کې د اوبو په تړاو، د دولتونو په اړیکو کې دلانجو د پیښېدو لاملونو له ډلې، څلورو موردو ته اشاره کوي. یانې د اوبو د وېش کربښې، پوله جوړونکی رودونه، په بل هیواد کې موجود اوبه خور ځایونه او سمندری پولې د هیوادونو او ګاونډیانو په اړیکو کې اغیزمنې بولي.

هومر ډېکسون باور لري چې راتلونکې جګړې او مدنې او تولنیز خشونتونه به په عمده توګه د اوبو، خوړو، ځنګلونو او د کب نیولو د سرچینو له کموالي راوتوکیږي.

نازلی چورسی او رابرټ نورث باور لري چې: لومړی او دوهمه نړیوالې جګړې په عمده توګه د کم پیدا او نه تجدیدیدونکو سرچینو پر سر رامنځ ته شوې. دا مهال څه موډرن هیوادونه او څه د دریمې نړۍ هیوادونه چې سخت له تجدیدېدونکو سرچینو سره تړلې دي د دواړو سرچینو پر سر به یوبل سره په نښتو کې ښکېل وي. د منلو ده چې دغه نښتې به تجدیدیدونکو سرچینو لپاره ډېرې نه وي. خو وضعه به د اوبو په اړه بیله وي ځکه چې د نړۍ له ۴۰ سلنې څخه زیات جمعیت د هغو ۲۱۴ شریکو رودونو په حوزه کې ژوند کوي چې تول یې اوبو ته ، حتی په نظامي ځواکونو کې د تولید او کارونې لپاره، اړتیا لري. همدې امله وو چې، د ۱۹۹۵ کال د اګوست په ناسته کې، د نړیوال بانک نایب ریس اسماعیل سراج الدین د ژوند چاپېریال د مراندو او ولیو په اړه اعلام وکړ چې « د راتلونکې پېړی جګړې به د اوبو پر سر وي، نه د نفتو په سر»(حافظ نیا – نیکبخت، ۱۳۸۱ ).

**نړیوال لید له مخې د اوبو پر سر د شخړې او اختلاف پوتنشیل پدې دلیل دي چې د اوبو بین المللي(نړیوال) قانون چې د اوبو پر کارونې او ګټې اخیستو څار کوي، ډېر کمزوری لیکل شوی، ضد اونقیض دی او د اجراکولو ضمانت نلری. لدې امله کومه د حیرانتیا خبره نده چې د اوبو پرسر دعواوې یوه اوږده مخینه لري او هماغسې چې ځینې یې وړاندوینه کوي په ۲۱ مه پېړی کې د اوبو پر سر جګړه نه تمکیدونکې ده. خو پدې اړه دغې پوښتنې ته چې په ۲۱ مه پېړی کې جګړې په اټکلي توګه ولې د اوبو پر سر دي ځواب لا نده ورکړل شوی.**

د امریکا ارګون ایالتي پوهنتون په یوې درې کلنې تحقیقاتي پروژه کې په تیرو ۵۰ کلونو کې د اوبو پر سر د جګړې یا د همکاري موضوع، څیړلې ده .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د یوه اطلاعاتي بانک د تحقیق بنیاد، اوبو پر سر د اختلاف او شخړو د ټولو پېښو او یا د همکارۍ او د تفاهم د قرارداد په برخه کې دی.(Wolf et. al 2003) . پدې مطالعه کې، د اوبو پر سر د ۱۸۳۸ په شمېر مخامختیاوې یا روغې جوړې (تفاهمونه) تر څېړنې لاندې نیول شوي دي چې د دوو یا څو هېوادونو ترمنځ ټکر او شخړې ته او یا تفاهم او قرارداد تړلو ته رسېدلي دي . له دغې څېړنې څخه ترلاسه شوې پایلې په لاندې شرحه دي:

الف – په نړیوالو(بین المللی) حوضو کې اختلاف او شخړې لپاره د موجود پوټنشیل پرخلاف، تاریخي پلوه د پېښو په شمېره کې د شخړو پرتله د تفاهم او همکاریو نتیجه خورا زیاته ده.

له ۱۹۵۰ کال څخه د اوبو پر سر د شخړو او اختلاف یوازې ۳۷ مورده په تاوتریخوالی اوښتي دي چې له دی ۳۷ مواردو څخه ۳۰ مورده یې د خپلو ګاونډیانو له کوم یوه یا نورو هېوادونو سره د اسراییلو په نښتو پورې تړاو لري. البته ګاونډیانو سره د اسراییلو د جګړې د پلمې لاملونه نور دي. او له هغو مواردو څخه یو یې اوبه دي. دغه خشونتونه په لویو اړخونو کې په ۱۹۷۰ کال کې پای ته رسېدلي دي. په دې اساس که چېرې اسراییل استثنا کړو د اوبو پرسر ټولې نښتې د نیمي پېړۍ په اوږدو کې ۷ موردو ته رسېږی. منځنی ختیځ څخه بهر د نښتو موارد یوازې ۵ مورده ول حال داچې له ۱۹۵۰ کالونو څخه د تفاهم او د همکاریو تړونونه ۱۵۷ موردو ته رسېږي. تاریخي پلوه د اوبو پر سر ثبت شوې رېښتیانی جګړه هم یوازې د دجلې او فرات د سیند جګړه وه چې ۲۵۰۰ مخکی له میلاده د دوو محلی حکومتونو ترمنځ پېښه شوې ده (Wolf 1999 ).

د نړی په ټول تاریخ کې اوبو پر سر اختلاف او شخړې لپاره، ۵۰۷ پېښې او د اوبو پر سر د لاسلیک شویو تفاهم لیکونو شمیر، ۱۲۲۸ پېښې ثبت شوي دي. پر اختلافونو د تفاهمونو د شمیر مخکیوالی په ډاګه کوي چې اوبو پر سر تاوتریخوالی (خشونت) او شخړه نه عقلاني دي، نه جغرافیه یې نظره اغیزمنې دي او نه یې اختلافي لورو لپاره، اقتصادي پلوه، کومې ګټې درلودلي دي.

باید پام مو وي چې اوبو پر سر تفاهم یا یوازې اوبو لپاره دي یا د اوبو پر سر د تفاهم ترڅنګ نورو مواردو ته هم پاملرنه شوې ده. خو د اوبو پرسر جګړه ښایي اوبه پلمه وي جګړه په آره توګه د نورو مسئلو پر سر وي . نو لدې امله د ۵۰۷ او ۱۲۲۸ دوو عددونو کیفیت یو شانی نه دی .

ب – د سیاستوالو د اورینو غورځو پرځو پرخلاف چې ډېرې یې پخپله هغوی لپاره د کور د ننه کارول کېږي، د اوبو د اختلاف په باب ډېرې نړېوالې پریکړې خورا نرمې او سولمنې وې. د اختلافونو ۴۳ سلنه د دوستانه خبرو اترو په بنه او یا حد اکثر د وینابیزه غورځو پرځو په صورت وې.که د دواړو لوریو بل مخ. یانی رسمي دوستانه ویناوې او رسمي غیر دوستانه ویناوې پر دغو آمارو ورزیاتې کړو. ټولې رسمي خبرې اترې په ټوله کې ۶۲٪ ته رسېږی. لدې امله کابو د ټولو پېښو دوه پر درې هغه یې په وینابیزه بڼه دي او د تحریم دوه پېښې هم ترسره شوي دي (Wolf 1999 ).

ج - اوبو سره اړوند خبرواترو په اړه زیاتره موارد په همکارې بدل شوي او لفظي یا سیاسي ټکر نه دی رامنځ ته شوی. په همکارۍ د بدل شوي پېښو بریدکچه ډېر پراخه ده. دغه همکاریګانې د اوبو کیفیت او کمیت، اقتصادي پراختیا، د اوبو بریښنا پراختیا او د ګډو مدیریتونو په مواردو کې ترسره شوي دي . په پرتلیزه توګه د ۹۰ سلنه په توندو او شدیدو شخړو اوړیدلو پېښو، د اوبو کیفیت او د هغه بیخ بنایی جوړښتونو ته زیان اړولی دی. پر دې سربېره سختو نظامي عملیات، (د شخړې تر ټولو بد ډول) نورو دلایلو له مخې د بیخبنایي تاسیساتو د ویجاړیدو او د اوبو د کمي او کیفي راټیټېدنې لامل شوی دَی.

د – په ګډو حوضو کې د اوبو موضوع، د هیوادونو ترمنځ هم د ناکرارۍ او هم د وحدت لامل شوې ده. اوبه کولای شي هم ښې اړیکې په ناوړه اړیکو واړوي او هم کولای شي بدې اړیکې لا نوره هم بدې کړی او هم کیدی شي د سولې او دوستی زمینه شي.

د اوبو قضبې له پېچلتیاو سره سره، نړیوالی اوبه په هغو حوضو کې چې نسبي توګه له شریکو او معتبرو کاري ډلو او بنسټونو برخمنې دي هیوادونو ترمنځ د اتحاد او همکارۍ په یوه عامل بدلې شوې دي. تاریخي تجربه ښيي چې د اوبو بین المللي شخړې ان د میرځمنو او دښمنو هیوادونو ترمنځ د هوارۍ وړ دي. ځینو متخاصمو هیوادونو کله چې د اوبو د همکارۍ په تړاو خبرې کړي دي او هوکړې ته رسیدلي دي دښمني یې د ګډو همکاریو د بنسټونو په رامنځ ته کولو سره، په دوستی بدله شوې ده .

د مکونګ کمیټه د بیلګې په توګه دولتونو ترمنځ د یوه بنسټ په توګه د لاووس ، کمبودیا، تایلند او ویتنام دولتونو له خوا په ۱۹۵۷ کال کې تشکیل او دغو هیوادونو د ګډو کمیټو له لارې د ویتنام دجګړې پر مهال خپل مالومات او اطلاعات د اوبو په برخه کې یو بل سره مبادله کول. اسرائیل او اردن هاشمي د جانسن د مذاکرو له وخته له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۵ کالونو کې په پټه یو بل سره د مذاکرې میز تر شا ناست دي که څه هم سیاسي پلوه دغو دواړو هیوادونو له ۱۹۴۸ تر۱۹۹۴ پورې یو بل سره د جګړې په حال کې پاتې شوي دي.

د سند رود کمیسیون ان د هند او پاکستان ترمنځ دوې مهمې جګړې هم تیرې کړي دي. اوبو پر سر د سیند د پاسنیو او کوزنیو هیوادونو د جګړو باوجود د نیل سیند ټولو ۱۰ حقابه لرونکو هیوادونو د ۲۱ پېړی په لومړی لسیزه کې د هیوادونو لوړپوړیو مقاماتو په کچه په مذاکراتو لګیا دي څو د همکارۍ یوه حوضه رامنځ ته کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په جنوبی افریقا کې کله چې محلي جګړو دوام درلود، د رود د حوضې یو شمیر هوکړه لیکونه په ۱۹۷۰ – ۱۹۸۰ لسیزو کې لاسلیک شول. که څه هم لاسلیک شوې هوکړه لیکونه محلی جګړو په وخت کې زیات کاریدونکې نه وو او د نښتو له پای ته رسیدو وروسته دغه هوکړه لیکونه هیوادونو ترمنځ د همکاریو یوه مهمه کارتوګه (کړنلاره) ده. په سهیلی افریقا کې هم د جګړې د بندیدو له وخته، د اوبو له مسئلو سره اړوند همکاریګانی پدې توانیدلی دي چې سیمه کې د ټیکاومنی او پایښتمنې سولې اډانه رامنځ ته کړي.
البته دا شیبه د اوبو د سیاست رغونه په نړیوالو اړیکو کې د یوه ضرورت په توګه نه منظورېږي. او نورو مسلو سره په پر تلنه کې، لکه بیخبنایي سرچینو (لکه نفت) او یا جیو پولیټیکي کنټرولونی (لکه د سویز کانال یا د فارس خلیج کنترول په څېر)، د هیوادونو په ډیپلماسی کې ځای نلري. د منځنی ختیځ پولي اړوند شخړو سره په تړاو کې چې هلته قامي، ایډیالوجیکي، ملي او مذهبی یا ضد دینی لانجې ترسترګو کیږی ، د اوبو ډیپلوماسی د پولي اړوند شخړو او لانجو په غځېدو یا مخنیوي کې مهم نقش درلودلی دَی.
کال تر بله نړیوالو سیندونو څخه د ښاري صنعت، کرنې او د ژوند د چاپېریال چارو په برخه کې ګټې اخیستو لپاره د اوبو غوشتنه مخ په ډیرېدو دی. لدې امله هغه هیوادونه چې له شریکو اوبو ګټه اخلي(رودونه ، بحیری او ځمکې لاندی شریکی اوبه) تل د پولي اړوند لانجو تر اغیزو لاندې وي او پولیزو مخامختیاو څخه د هغوی اغیزمنېدل، چې ډېر ځلې د اوبو او هوا له بدلیدو او وچکالیو سره زیاتوالی پیداکوي، هماغه شان دوام لري. نولدې امله په ګډپولیزو او له پولي آخوا اوبو پر سر شخړو او لانجو باندی څارنه او د مخامختیاو او لانجو وړاندوینه او کمښت، راتلونکې انسان او د ژوند چاپېریال لپاره اصلي موضوعګانې جوړوي.
آسیا د نورو لویو وچو پرتله لا زیات کېدای د خوړو اوبو په رانیولو کې لانجو، سیالیو سره لاس او ګریوان شي. ځکه چې پدې لویه وچه کې د اوبو د غوښتنې ډېروالی او د اوبو ککړتیا زیاته پېښېږي. په اسیا کې د اوبو مدیریت پدې دلیل پېچلَی اوستونځمن دَی چې بیلابیل هیوادونه اوبو ته د متفاوتې پراختیا له مخې اوبو ته جلا جلا او متفاوتې اړتیاوې لري.
د ګډو اوبو له سرچینو څخه د کار اخیستو ننګونې خورا پېچلې دي. د پراختیا له موجودو ستونځو یوه بې د برابری او ټیکاومنې ګټې اخیستو ګډ میکانیزم دی ځکه په هغه چاپېریال کې چې بیلابیلې سیاسي نظربې او فرهنګونه او متفاوت پراختیایي موخې موجودې دي د تفاهم رامنځ ته کول ډېر ستونځمن کار دَی.
بله ستونځه له یوې اوبیزې سرچینې څخه د اوببرخی (حقابی) اخیستونکو هیوادونو مسئلو ته رسیدګې لپاره د یوه جوړښت او ځانګړی مرجع او ټاکلې ځای او د یوه حقوقي او رسمي سیسټم تاسیسولو ستونځه ده، چې وکړای شي په ډېره ښه توګه توپیرونه درک کړي. ساري په توګه ملګرو ملتونو سازمان اټمي مسئلو ته رسیدګی لپاره ځانګړی جوړښت لري. خو اوبو لپاره د ایټمي انرژی په کچه کوم جوړښت نلري.

**لېدل کیږي چې اوبو پر سر شخړې پراخیدو په حال کې دي. او اړینه ده چې ملګرو ملتونو سازمان له لورې اوبو په باب اختلافونو او شکایونو ته رسیدګی لپاره یو ځانګړی جوړښت رامنځ ته شي. همدا اوس اوبو او اوبلارو سره اړوند مسئلې او ستونځې لکه د نړېوالې محکمی، یونسکو، د ژوند چاپېریال سازمان، نړیوالې هوا پیژندنی سازمان (W.M.O) ، نړیوالی روغتیا سازمان په څېر د بیلابیلو نړېوالو مراجعو له خوا پلټل کیږي.**

حقابه لرونکې هیوادونه تر ډېره بریده د سترو او ځواکمنو هیوادونو له ښکیلاکګر سیسټم سره مخامخ دي او د پاسنیو او کوزنیو هیوادونو حق ته پاملرنه نه کوي. دغه زوړ سیسټم باید اېسته شي او پر ځای بې په برابره یا هوکړه شوې ګټه اخېستنه او ګډو همکاریو کې د هیوادونو حقونه په پام کې ونیول شي. په آسیا سیمه کې د ګډ پولیزه اوبو د مدیریت په پار، هم ځمکی د پاسه او هم ځمکې لاندې ګډو اوبو ، لدې دلې د اوبه توپېدونکو حوضو، دځمکی لاندې اوبو، بحیرو او باتلاقونو، ګډ پولیزو اوبو او له یوه هیواده بل هیواد ته د لیږدیدونکو اوبو باثباته ساتنې او مواظبت لپاره، د همکاریو یو عملي چوکاټ، اړین دی.
اوبه، د نورو لګښتیزو(مصرفي) سرچینو پرخلاف، د ټولنې د فعالیتونو ډېری اړتیاوي له بیولوژیکي برخو رانیولې تر اقتصادي عملیاتو، ښکلا پیژندنې او معنوی فعالیتونو پورې رانغاړی. که چېرې اوبو ته د لاسرسی په مکان او زمان کې بدلون راشي د اوبو مدیریت به نور هم ستونځمن شي. کله چې د اوبو کموالی رامنځ ته کیږي، قانون ته نه پاملرنه، ځانغوښتنه او د اوبو پر سر اختلاف پېښیږي. لدی امله اوبه نشي کېدی یوه منظره مدیریت شي بلکې د اوبو مدیریت څو منظوره دی او د رقابتی ګټو پراساس بې برنامه جوړیږي. په هر هیواد کې، دغه ګټې کېدای شي د ښاري یا د کرنیزو مصرف کوونکو، د اوبیزې بریښنا انرژي، د تولیدوونکو، د صنایعو دخاوندانو او د ژوند له چاپېریال څخه د ساتنی کارکونکو ګټې راونغاړي. اوبو ته د لاسرسېدو په سیالي کې د برخو ترمنځ د تفاهم په کچې او په یوې برخې د بلې برخې په برلاسي منلو پورې او یا په هره برخه کې د مصرف کوونکو له شمېر سره تړاو لري. سطحې اوبه او ځمکې لاندې اوبه کله چې له بین المللی پولو تېرېږي کېدای شي د سیمي په ټیکاو او ثبات کې بی شمېره لانجې رامنځ ته کړي ځکه چې سیاسي مسئلې د اوبو پر اړتیاو لومړیتوب ترلاسه کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ډیپلماسی تاریخ په ډاګه کوي کله چې د پولي د اختلاف او شخړو پوټانشیل په تېره بیا د شریکو اوبو په اړه ډېر وي، د خبرو اترو او ګډو همکاریو چمتووالی د پولي د شخړو په حل کې ډېر اغیزمن دی. په نړی کې ۲۶۰ شریک (نړیوال) سیندونه موجود دي چې د دوو یا څو هیوادونو ترمنځ شریک دي. ګنشمېر څمکي لاندي ګډپولیزه اوبیزې سرچینې هم شته چې دا مهال ناپېژندل شوې پاتي دي. تاریخي مطالعي ښیي اوبو پر سر د کم شمېره جدي نښتو پرخلاف، دغه حیاتي تومنه کولای شي په راتلونکي کې د ډېرو شخړو او اختلافونو سرچینه وګرځي.

| |
|---|
| پدې اساس د دې کتاب یو وړاندیز دا دی چې:<br>ملګرو ملتونو سازمان دې د اوبو چارو او سرغړونو ته، د اوبو د سرچینو پراختیا، انجوګانو NGO رامنځ ته کولو، په نړیواله کچه د اوبو رسونکو او حقابه رسوونکو تشکیلات، د سرچینو او تاسیساتو د پراختیا نړیوال بانک او نړیوالو اوبیزو حوضو ګډې پراختیا لپاره یو نوی جوړښت جوړ کړي.<br>البته چې موجود تشکیلات د دغو کارونو یوه برخه اجراکوي خو اوسنی جوړښت او اعتبارات نه یوازی بسندوی او ځواب ویونکي ندي بلکي د ملګرو ملتونو سازمان د بیلابیلو واحدونو ترمنځ ویشل شوي دي. |

نوربیا

**د ګډو اوبو حقوقي نظرېې**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ